مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست ۲۰۲۶/۰۱/۱۴

# دري ديرش کاله وروسته يو اشنا غږ

مازيګر له يوې نا آشنا شمېرې زنګ راغی. له سلام وروسته يې وپوښتل: و دې پېژندم؟

د نه ځواب مې ورکړ.

سمدلاسه يې وويل: شاه غاسي يم.

له دې سره مې ذهن شاوخوا ۳۳ کاله شاته لاړ:

زموږ ليسه کهلابټ کالونۍ کې وه. له هغه ځايه د هريپور تر بازاره، غالبا يوه روپۍ کرايه وه. په هغه ورځ چې رخصت شوو، د ليسې د موټر په ځای کرايي موټر (باډۍ والا سوزوکي) ته پورته شوو. هغه دکان ته لاړو چې د خياطی شيان پکې خرڅېدل. پنجابي هټيوال چې موږ وليدو، سمدستي يې وويل:

ما هم فارسي زده کړې او بيا يې ويل:

که غم نداری بز بخر!

شوخ شاه غاسي ورته ويل:

يه علامه اقبال کا شعر هی!

پنجابي دوکاندار آچها، آچها، وويل.

شاه غاسي، د ښوونځي ترڅنګ خياطي هم کوله او مهاجر بازار کې يې دوکان و.

دري ديرش کاله وروسته، د يو ملګري او ټولګيوال غږ اوريدل، سخت خوند لري.

که تر پسرلي پورې ژوند و، کش به طرف کاپيسا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ